
# د نوي زیږېدلي ماشوم د وینې څاڅکو (Bloodspot) معاینه ستاسو د ماشوم ژوند ژغورلای شي











## ولې؟

دا د وینې ځانګړی ټیسټ کولی شي هغه نادري ناروغۍ تشخیص کړي چې که په وخت یې درملنه ونشي نو د معیوبیت یا مړینې لامل کېدی شي.

## څوک؟

د ایالت قانون د روغتیایي پاملرنې وړاندې کونکو څخه غواړي په ایالت کې زیږېدلي هر ماشوم څخه د معاینې لپاره دوه بیلګې واخلي.

## کله؟

د لومړي ټیسټ بیلګه باید هغه مهال واخیستل شي کله چې ستاسې ماشوم د شاوخوا 24 ساعتونو وي. د دوهم ټیسټ بیلګه باید هغه مهال واخیستل شي کله چې ستاسې ماشوم د شاوخوا دوه اونیو وي. که تاسې یې لرئ، د زیږون وروسته ستاسې لومړی لیدنه کې د دوهمې معاینې کارت خپل د ماشوم روغتیایي پاملرنې وړاندې کونکي ته ویسئ.

## څنګه؟

ستاسې د ماشوم پښې څخه د وینې یو څو څاڅکي د ټیسټ ځانګړي کاغذ باندې اېښودل کېږي.

## د ټیسټ پایلو څرنګوالی؟

د ټیسټ پایلو لپاره د خپل ماشوم ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ. بل ټیسټ ځینې وختونه د مختلفو دلایلو لپاره اړین وي. که ماشوم مو نورو ټیسټونو ته اړتیا ولري نو دا مهمه ده چې ژر تر ژره عمل وکړئ. که اړتیا وي، درملنه باید هرڅومره ژر چې ممکن وي پیل شي.

## استثناوي وړاندې کېږي

تاسې کولی شئ د ځانګړي دلایلو لپاره ستاسې د ماشوم نه ټیسټ کول غوره کړئ. که له تاسې د ټیسټ لپاره د تادیه کولو غوښتنه وشي، تاسې ممکن د فیس معافیت لپاره په شرایطو برابر اوسئ. د بشپړو معلوماتو لپاره دغې ویب پاڼې ته سر ور ښکاره کړئ: bit.ly/nbs-exception

## د پېژندل شوي ناروغیو/ وضعیت مثالونه

- د بیوتینیداز کمښت
- مورزادي ادرینال هایپرپلازیا
- مورزادي هایپوتایرایډیزم
- سیستیک فیبروسیس
- ګلاکتوسیمیا
- فینیلکیتونوریا (PKU)
- سیکل سیل او نور هیموګلوبینوپیتیز
- د مرکب معافیت شدید نقص
- د ملا تیر عضلاتي اتروفي (SMA)
- په X کروموزوم پسې تړلي آدرینولوکودیستروفي (X-ALD)
- نور میتابولیکي او لیسوسومي زیرمې اختلالات



## د نورو معلوماتو لپاره

- خپل ډاکټر، قابلې یا نرس سره خبرې وکړئ.
- د لاندې ویب سایټونو څخه لیدنه وکړئ:
  - د اوریګون ایالت عامې روغتیا لابراتوار: www.healthoregon.org/nbs
  - د نوي زیږېدلي ماشومانو د معاینات‌و پوهنیز مرکز (Baby's First Test): www.babysfirsttest.org

bit.ly/NBSnewvideoforparents

دلته سکین وکړئ ترڅو یوه ویډیو وګورئ چې څنګه د نوي زیږېدلي ماشوم د وینې څاڅکو معاینه ستاسو د ماشوم روغتیا ساتنه کوي.

OREGON HEALTH AUTHORITY

تاسو کولی شئ دا سند په نورو ژبو، لوی چاپ، د ړندو لپار لیک یا په هغه بڼه کې ترلاسه کړئ چې تاسو یې غوره کوئ. د اوریګون ایالت د عامې روغتیا لابراتوار سره په 503-693-4100 اړیکه ونیسئ (غږ). دوی ټول ریلې زنګونه منې.

200-599972 OHA 8541 (08/2025) Pashto